Global Storybooks

globalstorybooks.net

د شاتوموندونکې مرغی غچ

Zulu folktale
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid

This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/3.0

# د شاتوموندونکې مرغی غچ

Zulu folktale
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid
4
پښتو ps

دا د نګید په نامه د شاتو د ځالو لارښود مرغۍ او د جمیل په نوم د یوه لالچي ځوان کیسه ده. یوه ورځ جمیل د ښکار لپاره بهر تللی و چې د نګید مرغۍ غږ یې واورېده. هغه خوشحاله شو چې د همدې مرغۍ پر مټ به د شاتو ځاله پیدا کړي، ودرېده او په ځیر سره غوږ شو، تر څو یې چې د خپل سر د پاسه د ونې په څانګو کې مرغۍ ولیدله. “چیټیک-چیټیک-چیټیک،” وړې مرغۍ سندرې ویلې، یوې ونې ته یې ټوپ کړ، بیا بلې ونې ته والوتله “چټیک، چیټیک، چیټیک،”. او همدارنګه نګید به هم وخت په وخت درېدله، ترڅو ډاډمنه شي چې جمیل یې تعقیبوي.

نیم ساعت وروسته، دوی د اینځر یوې لویې ونې ته ورسېدل. نګید په خوشالۍ سره د ونو په څانګو کې الوتنې کولې. جمیل ته یې د سر په اشاره وویل چې راځه د شاتو د ځالې په پیدا کولو کې به مرسته درسره وکړم، خو ولې دا ځنډېږي؟ جمیل د شاتوګبین نه و لیدلی، خو پرنګید یې باور درلود چې سمه لارښوونه به ورته کوي.

نو جميل خپله د ښکار نيزه د ونې لاندې کېښوده، يو
ځو دانې وچ لرګي يې راټول کړل او اور يې بل کړ. کله
چې اور ښه ولګېده، نو د اور په منځ کې يې يوه اوږده
وچه لښته کېښوده. دا لښته د لوګي جوړولو ځانګړې
لښته وه. هغه ونې ته په ختلو پيل وکړ، سګرټ يې په
خوله کې نيولی و.

ډېر ژر يې د ګڼو مچيو غږونه واورېدل. مچۍ د ونې له
تنې څخه راوتلې او دننه کېدلې. کله چې جميل د
مچيو ځالې يا ګبين ته ورسيد، نو هغه د سګرټو لوګی
ګبين ته وردننه کړ. مچۍ ډېره غوسه او بې رحمه
ښکارېدې. په بېړه راووتلې او وتښتېدلې، ځکه چې د
دوی لوګی نه خوښېده – خو دوی په تګ کې جميل
ښه سم وچيچه.



له همدې امله کله چې ماشومان دا کيسه اوري د
جميل او نګيد پېښه يې ذهن ته راځي او د شاتو را
ټولولو وروسته يوه برخه لارښوود مرغۍ ته ورکوي.

کله چې مچۍ له ځالې بهر شوې، جمیل د مچیو ځالې
ته لاس دننه کړ. هغه د شاتو یو غټ ګبین راوویست
چې ښه ډېر شات پکې و. جمیل په ډېر احتیاط سره
هغه په کڅوړه کې واچوه، کڅوړه یې اوږې ته کړه، او له
ونې څخه په ښکته کېدو شو.



مخکې له دې چې پړانګ په جمیل حمله وکړي هغه له
ونې څخه په چټکۍ ښکته شو. د ونې له څانګو یې
ځمکې ته راټوپ کړ، او په منډه شو. جمیل نېکمرغه ه
و ځکه چې پړانګ ستړی و او دومره وس پکښې نه و
چې د جمیل پسې منډې وکړي، او هغه ونیسي، له
دې سره جمیل خوندي پاته شو او عبرت یې
واخیست. نګید هم خوشحاله وه چې له جمیل یې
خېل غچ واخیسته.

نګیډ مرغۍ د جمیل دا چاره په ځیر ځیر سره لیدله..
هغه په دې تمه وه، چې جمیل به د شاتو د ګبین یوه
ټوټه نګیډ ته د شاتو د ځالې د ښوونې، د نذرانې په
توګه پرېږدي. نګید له یوې ښاخه ښانګې ته
والوته، ځمکې ته راټیټه شوه، بیرته پورته شوه. بالاخره
جمیل د ونې ښخه ښکته شو. نګید جمیل ته نږدې په
یوه ډېره کښیناسته، او د هغه د انعام د ترلاسه کولو
انتظار یې کوه.



جمیل ونې ته پورته شو، حیران شو چې ولې د تل په
شان د مچیو غږ نه اوري. هغه له ځانه سره فکر
وکړ"شاید د ونې تل کې وي،" یوې بلې ښانګې ته پورته
شو. خو دا ځل یې د ګبین پر ځای یې د پړانګ مخ ته
کتل! پړانګ ډېر په غوسه و، چې د هغې خوب یې په
بې رحمۍ سره خراب کړی و. هغې خپلې سترګې
تنګې کړې، خپله خوله یې خلاصه کړه، چې خپل خورا
لوی او تیره غاښونه ښکاره کړي.

خو جمیل اور مړ کړ، خپله نېزه یې واخیسته، او د کور په لور روان شو. نګید په غوسه غږ وکړ، "وک ټورررررر وک!" جمیل ودرېده، کوچنۍ مرغۍ ته یې وکتل او په لوړ غږ یې وخندل، مرغۍ ته یې وویل "ته شات غواړې؟ په رښتیا یې غواړې، زما ملګریه؟ هوا!" "ټول کار خو ما وکړ، د اور بلولو لښتې مې راټولې کړې. نو زه بیا ولې له دا خوندور شات له تا سره شریک کړم؟" دا خبره یې وکړه او روان شو. نګید ډېره په قهر شوه! د جمیل څخه د بدل اخیستلو لپاره ورسره هیڅ لاره نه وه! خو هغه به یوه ورځ خپل غچ هرومرو اخلي.



ثو اوونۍ وروسته یوه ورځ جمیل بیا د نګید د شاتومونډونکې مرغۍ غږ واورېد. د هغه خوندور شات فکر ته راغلل، او په ډېره لیوالتیا یې یو ځل بیا مرغۍ تعقیب کړه. دا ځل نګید جمیل د ځنګل یوې څنډې ته یوړ. نګیډ د اغزیو د چترۍ لاندې ودرېده. "آه،" جمیل فکر وکړ. "چه د شاتو ګبین باید په دې ونه کې وي." هغه په ډېرې چټکۍ سره اور بل کړ، او ونې ته په ختلو شو، په خوله کې یې د لوګیو سګرټ و. نګید ناسته وه، او یوازې ننداره یې کوله.